# مینه

## د هر څه نه زیات د مینې په لټه کې اوسئ

### د پیل ټکی

- د ټولو نه ډېر مهربان کس چې پېژنئ، څوک دی؟ څه شی سبب شول چې هغه د ټولو نه ډېر مهربان کس خطاب کړئ؟
- اصلي نښې کومې دي چې تاسو پوهیږئ، په یو چا باندې ګران یئ؟

### بحث او خبرې

- د مور مینه ډېر وختونه تر ټولو ډېره لویه مینه بلل کیږي. څه شی دغه د مور مینه بې_ساري کوي؟
- ولې دا شان قوي، روښانه، بې_پایه مینه زمونږ دپاره جذابه او الهام بخښونکې ده؟

### کلمه وپلټئ
### (۱ برخه)

عیسی د مینې په هکله په ډېرو مواردو کې خبرې کړي. هغه څه چې هغه تعلیم ورکړ، زمونږ له درکه لوړ د مینې کولو ؤ. هغه پر صلیب باندې په خپل مرګ سره، مونږ ته د خپلې مینې فداکاري وښودله او مونږ ته یې هم بلنه راکړه چې د هغه په شان مینه وکړو.
لاندې ایتونه ولولئ:

- متی ۲۲: ۳۶_۴۰
- یوحنا ۱۳: ۳۴_۳۵
- لوقا ۶: ۳۲_۳۶

د لاندې پوښتنو په اړه د یو بل سره خبرې وکړئ:

- ستاسو په نظر ولې مینه کول ډېر لوي حکم دی؟
- تر ټولو لوی ثبوت چې مونږ د عیسی شاګردان یو، څه دی؟ ولې؟
- مونږ ته بلنه راکړل شوې ده چې له کومو کسانو سره مینه وکړو؟ عیسی له مونږه څه غواړي او څنګه خپله مینه ښکاره کړو؟

### اصلي مفکوره

د ټولو نه لوی ثبوت چې مونږ د عیسی شاګردان یو دا دی چې مونږ د یو بل سره مینه لرو. د مینې ښودل بلوغ او روحاني وده ده - ترڅو مونږ د عیسی په شان شو. څنګه چې د لوقا په انجیل کې ویل شوي دي، کله چې مونږ د یو بل سره مینه کوو، مونږ ښیو چې د خدای اولادونه یوو.
نو ځکه، زمونږ مقصد باید د هر شي نه زیات دا وي چې تل د مینې په لټه کې واوسو.

### کلمه وپلټئ
### (دوهمه برخه)

اول قرنتیان ۱۳ فصل ولولئ.

- په ۱_۳ ایتونه کې څه ځانګړتیاوې او یا وړتیاوې د پولس له نظره بې له مینې کول بې_معنی دي؟
- په معمولي توګه، کوم یو له دې ځانګړتیاوو او یا وړتیاوو څخه د ټولو نه زیات ارزښمنې دي؟

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

- ولې دا جمله د پولس سمه ده چې پرته له مینې دا ځانګړتیاوې او یا ورتیاوې بې_ګټې دي؟

لاندې لستونه د ۴-۷ ایتونو څخه اخستیل شوي دي. دا په کراره ولولئ او په نظر کې ونیسئ چې د عیسی مینه کول زمونږ دپاره تر ټولو غوره مثال دی.

- مینه صبر او زغم دی.
- مینه مهرباني ده.
- مینه حسد نه کوي.
- مینه فخر نه خرڅوي.
- مینه کبر او غرور نه لري.
- مینه بد چلند نه کوي:
- مینه خپله ګټه نه غواړي.
- مینه په اسانۍ سره نه په قهر کیږي.
- مینه په زړه کې دبنمني نه ساتي.
- مینه په بدۍ نه خوشحالیږي.
- مینه په حقیقت خوشحالي کوي
- مینه هر څه زغمي.
- مینه تل باور لري.
- مینه تل هیله منه ده.
- مینه په هر حالت کې ثبات لري.
- د عیسی مسیح د مینې له کومو ځانګړتیاوو څخه چې دستاسو د پاره دي، زیاته مننه کوئ؟
- د ۴: ۱۹ یوحنا سره سم، مونږ کولای شو د نورو سره مینه وکړو، ځکه عیسی لومړی له مونږ سره مینه وکړه. تاسو په خپله څو شیبې د مینې د ځانګړتیاوو د لیست سره سم، ارزونه وکړئ. په کومو حالتونو کې تاسو اړتیا لرئ چې زیات د عیسی په مینه کې د هغه په شان شئ؟

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

ایا اوس څوک شته چې د هغه سره مینه کول ستاسو دپاره ستونزمن وي؟

- د پورتن لیست سره سم، په کومو حالاتو کې تاسو نه شئ کولای خپله مینه هغوی ته ښکاره کړئ؟
- څنګه کولای شئ د هغوی سره مینه وکړئ؟
- پرته له انتظاره، سم دلاسه کوم ښه کار کولای شئ د هغوی دپاره سرته ورسوئ؟
- یوه دعا ولیکئ چې ستاسو په وړاندې د هغه د مینې د مختلفو ځانګړتیاو لپاره د عیسی څخه مننه کوي او هغه ته بلنه ورکړئ چې تاسو پدې برخه کې نور هم د هغه په څېر کړي.
  - د مثال په توګه، " ښتښتنه له تا مننه کوم له هغه صبر له امله چې له ما سره دې وکړ، په ځانګړي توګه چې څو څو ځلې مې لکه ستا په شان عمل ونکړ.

ښتښتنه له ما سره مرسته وکړه تر څو.................. صبر او زغم ولرم."

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- اول قرنتیان ۱۳: ۴-۷ حفظ کړئ.
- هره ورځ د عیسی د مینې په اړخونو چې له تاسو سره یې لري، فکر وکړئ. د هرې ورځې په پیل کې د یوښه کارکولوعملي لاره غوره کړئ او هغه څوک چې په عادي حالت کې په سختۍ سره کولای شئ د هغه سره مینه وکړئ، ورسره مینه وکړئ.
- د یوحنا ۴: ۷-۲۱ ایتونه ولولئ.
- راتلونکي ګام ته لاړ شئ او د دې سفر د پاي ته رسولو دپاره لمانځلو ته تیار شئ. همدارنګه د یو بل د ستاینې دپاره، خپل ذهنونه تیار کړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved